له پيشرو خپروني څخه
۱۰/۱۲/۲۱

## امريکا به هيڅکله له افغانستانه ونه وځي

د ناټو سازمان د ۶۱ کلنۍ په درشل کې د ليسبون دوه ورځنۍ غونډه تر سره شوه، چې په ترڅ کې يې تصميم ونيول شو څو په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان امنيتي او پوځي چارې د افغانستان چارواکو ته وسپارل شي. د بهرنيو او په ځانګړي توګه د امريکايي ځواکونو وتل به له افغانستان څخه د ۲۰۱۱ کال د جولای په مياشت کې پيل او دغه لړۍ به په ۲۰۱۴ کې بشپړه شي. له دې وړاندې هم امريکايي چارواکو په کراتو ويلي وو چې دوی به په افغانستان کې نه پاتې کيږي او دغه هيواد به خوشې کوي.

امريکا او نورو متحدينو يې په ۲۰۰۱ کال کې په دې پلمه پر افغانستان بريد وکړ چې ګواکې دلته د ترهګرۍ جرړې موجودې دي او نړۍ يې له ستر ګواښ سره مخامخ کړې ده، چې بايد د «نړيوالې ټولنې» په ګډو هڅو ورسره مقابله وشي. «نړيواله ټولنه» چې مشري يې امريکا او ورپسې ناټو کوي، د ترهګرۍ د ځپلو لپاره له سلو زرو څخه زيات پوځيان افغانستان ته راوستل خو ورځ تر بلې نه په امنيتي وضعيت کې ښه والی راغی او نه د ترهګرو د بريدونو لړۍ کمه شوه. سره له دې چې اوس ټول په دې پوهيږي چې القاعده او طالبان د لويديځو هيوادونو پروژه ده، مګر نوم يې د ترهګرۍ ضد جګړه ده، څو په دې پلمه په افغانستان کې خپل حضور ته دوام ورکړي.

امريکا په داسې حال کې له افغانستان څخه د وتلو ډول وهي چې په ورته وخت کې د پوځي اډو په جوړولو بوخته ده. له افغانستان څخه د امريکايي پوځونو وتل له عراق څخه د نوموړو پوځونو وتلو ته ورته والی لري. کله چې امريکا اعلان وکړ چې له عراق څخه به خپل ټول پوځيان وباسي، په خپل باور، نړۍ ته يې وښودله چې هغه هيواد د عراق د نيولو او د هغې د تيلو او نورو زيرمو د لوټولو لپاره وربانديې بريد کړی نه و، بلکې عراقيانو ته يې «د بشر حقوق» او «دموکراسي» راوستله. امريکا په رښتيا له عراقه ووتله خو يوازې ۵۰،۰۰۰ سرتيري يې هلته پريښودل. اوس هم افغانستان د عراق حيثيت لري. د ۲۰۱۱ کال د جولای مياشت د امريکايي سرتيرو د وتلو پيل ټاکل شوی، خو دا چې څومره امريکايي سرتيري به د تل لپاره په افغانستان کې پاتې کيږي، دا به راتلونکې روښانه کړي.

امريکا په افغانستان کې د اوږدمهال حضور لپاره د ۵۳۵ ميليون ډالرو په ارزښت خپل سفارت ته پراختيا ورکړې، د عامې روغتيا وزارت ځمکه يې اخيستې او ويل کيږي چې دويم مکروريان به هم په نږدې راتلونکې کې واخلي، ځکه د امريکا سفارت مخامخ ته چې د دويم مکروريان پيل دی، د يو ميليارد ډالرو په ارزښت پنځه ستوريز مريټ

هوټل جوړوي. په ورته وخت کي، امریکایي چارواکو له افغانستان سره د اوږدي مودي ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي او له افغانستان څخه یي د دایمي پوځي اډو غوښتنه کړې ده. امریکا په پام کي لري چي د ۱۳۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت په مزارشریف، شوراب او شینډنډ کي پوځي اډې جوړې کړي. دغه پوځي میدانونه له بګرام، کندهار او د افغانستان د نورو سیمو له ډګرونو څخه جلا دي. دم مهال د بګرام پوځي هوایي ډګر د امریکایي ځواکونو د میشت اصلي مرکز ګڼل کیږي، چي له ۲۰۰۱ کال راپدیخوا په کي د نظامي تاسیساتو د جوړولو لړۍ دوام لري او تر اوسه پای ته رسیدلي نه ده.

دا چي امریکا له یوې خوا د خپلو پوځیانو د وتلو چغي چغلبي وهي، او له بل پلوه خپلي پښي ټینګوي، یوازې یوه معنا درلودلای شي او هغه دا چي امریکا به هیڅ وخت له افغانستان څخه ونه وځي، مګر دا چي په زوره وویستل شي. د امریکا جوړښت او سرشت داسي نه دی چي خپل سلګونه پوځیان د بل هیواد د وګړو د سوکالۍ او هوساینې لپاره له لاسه ورکړي او میلیاردونه ډالره وربانديږ ولګوي، مګر دا چي په هغې کي یې خپله ګټه نه وي. افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت تر څنګ، د ناسا د سروې او اکتشافاتو پر بنسټ په خپلي سیني کي د ۵۰۰ زره میلیاردو ډالرو په ارزښت پټې زیرمې لري (بدخشان او هلمند په دې سروې کي شامل نه دي). د امریکا په څیر لوټمار هیواد هیڅکله نشي کولای چي د دغو زیرمو له څنګ نه په پټو سترګو تیر شي، لکه څرنګه چي په عراق کي یې د هغه هیواد د تیلو د لوټ لپاره له نوموړي هیواد سره ۲۵ کلن تړون لاسلیک کړ، هماغه شان به هم له افغانستان سره وکړي، څو د افغانستان بیوزلي ولس د امریکا له برکته، «سولې» او «سوکالۍ» ته ورسیږي.

په افغانستان کي د امریکا تلپاتې حضور نه یوازې د روسیې، چین، ایران او بالاخره د ټولې سیمې د کنترول لپاره اړین بریښي، بلکي د نړۍ د انرجۍ دویمهستره زیرمه (له منځني ختیځ وروسته) چي په ازبکستان او ترکمنستان کي موقعیت لري او هره ورځ د امریکا اشتها تحریکوي، د امریکا له پامه غورځېدلای نشي او باید بالاخره دغه زیرمه تر خپل کنترول او واک لاندې ونیسي.

امریکا دم مهال په ټولې نړۍ کي ۷۳۸ پوځي اډې لري او د ۲ میلیونو په شاوخوا کي سرتیري یې له خپل هیواد څخه بهر په نورو هیوادونو کي پراته دي، څو وکړای شي په هر وخت او هره شیبه کي پر هر هیواد چي ورته ګواښ وي، یرغل وکړي او د هر هیواد په وړاندې چټک غبرګون وښیي. د امریکا د تیریو او یرغلونو تاریخ ښیي چي هر چیرې چي امریکایي سرتیرو خپلې اډې جوړې کړي دي، بیرته ورڅخه وتلي نه دي. یوازینی هیواد چي امریکایي سرتیري ورڅخه په تیښت سر وتلي دي، هغه ویتنام دی چي د هوشي مین تر مشرۍ لاندې یې د امریکا ۳۰۰ زرېز پوځ ته خوله ماتونکي ماته ورکړه او وروسته له دې چي ۶۵۰۰۰ سرتیري یې له لاسه ورکړل، هغه هیواد یې خوشي کړ.